

ترتیب کونکي: وسیم افغان

# جالبه معلوماتي ټولګه



Ketabton.com

facebook.com Wasim Afghan

Twitter.com Wasim Afghan

Instagrame.com Wasim Afghan

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ



زما هغه خوږو ملګرو ته چې زه
یې هر وخت تشویق کړي یم

(c) ketabton.com: The Digital Library




# اومیاکون ، سائیبیریا ، روسیه

په نـــړۍ کې یو له سړو ځایونو څخه دی، چېرته چې د یخ درجه منفي ٦٣ درجې کې ثبت کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی بین، رووان اتکینسن، د پیلوټ جواز لري. د هغه په یوه سفر کې، کله چې پیلوټ د الـــوتنې پر مهال هوش له لاسه ورکړ، هغه وتـــوانید چې الـــوتکه په بریالیتوب سره کنټرول کـــړي او مسافر په خوندي توګه ځمکې ته راولي!

(c) ketabton.com: The Digital Library




دامونډ په ایران کې تر ټولو لوړ غر او په اسیا کې تر ټولو لوړ آتش فشان دی. دا غر یو له منځه تللی اورلګیدنه ده چې کیدای شي د زلزلې په صورت کې له منځه ولاړه شي او د شاوخوا تودوخې درجه به له 200 څخه تر 400 درجـــو سانتي ګـــــراد ته ورسیږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو څوک په مریخ کې له محافظتي جامو پرته ودریږي، په 30 ثانیو کې به بې هوښه شي او یوه دقیقه وروسته به مړ شي، ځکه چې د مریخ اتموسفیر فشار د ځمکې په پرتله خورا ټیټ دی او د انسان د بدن ټولې اوبه په لنډ وخت کې تبخیر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شپې لخوا د تمساح سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library






دا د فرانسې یوه ښکلې پېغله بلونسي ده، په ۱۸۴۹ کال کې زېږېدلې، کله چې ۲۵ کلنه شوه، ښکلا یې په ټوله فرانسه کې مشهوره شوه. اړیکې یې ډېرې وې خو د منځنۍ طبقې وکیل سره مینه شو. مور یې خوښه نه وه او یوه ورځ یې مور او ورور په یوه کوټه کې بند کړل اوازه یې خپره کړه چې لور یې مړه شوې ده. دا نجلۍ ۲۵ کاله په هغه بنده خونه کې پاتې شو چې د اړتیا وړ مواد یې له دوي ورکول . کلونه وروسته پولیسو ته یو ناشناس لیک په لاس راځي چې دا نجلۍ یې دوي کور کې ده او پولیس یې کور محصره کوي . پولیسو ویل چې خونه له حشراتو ډکه شوې وه. نجلۍ په ډهانچه بدله شوې وه، په تن یې جامې نه وې. د هغې حالت ډېر خراب و. دې نجلۍ ۲۵ کاله د لمر وړانگې هم نه وې لیدلې. د هغې د مور او ورور خلاف قضیه جوړیږي. مور څو ورځې وروسته مړه کیږي. دغه نجلۍ په خونه کې له زندان څخه تر خوشې کېدو وروسته ۱۴ کاله ژوند کوي. مگر بالکل لېونۍ شوي وو او په ۱۳ اکتوبر ۱۹۱۳ مړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کینیا کي دغه کس چي اکوکو طیجر نومیږي ، ۱۳۰ میرمني لرلې ، چي د هغو له جملې څخه یې ۸۵ طلاقي کړیدي او ۴۵ یې ورسره دي، چي د همدغو میرمنو څخه یې ۲۶۲ ماشومان پیدا سویدي او ۴۸ ماشومان یې مړه سویدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




ارنولډ هغه شخص چې 7 ځله دنړۍ د غوره عضله لرونکي او قوي انسان په توګه انتخاب سوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دردونکی حقیقت

چین د خپلو پوځیانو تر سینې لاندې ستنې اچوي!
د دې لپاره چې مستقیم وي، او همدارنګه د سرتیرو د ویده کیدو مخه ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوبی له هواي میدان څخه هره ورځ یو لک او پنځه څلویښته زره(۱۴۵۰۰۰)مسافرین تیریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




په نړۍ کې تر ټولو ګړندي ژوندي مخلوقات!!

1 پړانګ 120.7kM/H په ځمکه کې!
2 ماهي 109KM/H په اوبو کې!
3 باز 389kM/H په هوا کې!!

(c) ketabton.com: The Digital Library




دا د مدینې د ښار په الحجاز موزیم کې د سعد بن ابي وقاص (رض) هغه لېندۍ ده چې د احد په جنګ کې یې زموږ ؤ ستاسي د محبوب (ص) په دفاع کې ښه په مېړانه وکاروله.

د سعد بن ابي وقاص صحابي په اړه د عالمانو سره لسلکه خبري شته؛ مازي پوښتنه ځیني وکړ خو زه به یې یو دوې درې په نوټونو کې درته ووایم.

نوټ: دی زموږ په دین کې اولنی سړی ؤ چې د اسلام د دفاع لپاره یې غشی دغي لېندۍ ته ور واچوه او په دښمن پسي یې وار کړ.

دوهم: دی د هغه ۱۰ کسانو څخه دی چې پر دې دنیا یې پر پاسپورټ د جنت وېزه ولګېده؛ مانا جنت ته به اتومات ځي.

درېیم: کله چې یې د احد د غزا د جنګ پر میدان غشي خلاص سوه، وروسته زموږ او ستاسې محبوب (ص) غشي ورکړه او ورته وویل به یې:

ای سعده زما مور او پلار دي در تا قربان سي پر ور خطا یې که او وار پر وکه!


(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنړۍ ترټولو قوي کیمره

دا کیمره کولای شي چې له 200سانتي مترو څخه بیا تر 20کیلو مترو پورې صحنه تر خپل پوښښ لاندې راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکلاسیک فزیک پلار، دمعاصري ټکنالوجي دپرمختګ بنسټګر، دعصري علومو نابغه... ایساک نیوټن (Isaac Newton )

نیوټن څوک ؤ ؟

ایساک نیوټن له نن څخه 379 کاله مخکې دانګلستان په یوه کلي کې وزیږېد،

نوموړي د (14) کلنۍ څخه راپدېخوا دکتابونو پر مطالعه کولو برسیره دځینو شیانو په جوړولو لکه بادي ژرنده، آفتابي ساعت اونورو یې لاس پوري کړ.

داچې نوموړی له پوهي او علم سره ډیره زیاته علاقه لرله نو په 1665 م. کال کې یې وکولای شول دکمبریج پوهنتون څخه  دریاضیاتو په برخه کې خپل تحصیل سرته ورسوي.

له 25 کلنۍ څخه راپدېخوا په لویو لویو کشفیاتو بریالی شو،


پرځمکه دمڼې دلویدلو په اړه نوموړي ډېر فکر وکړ او دځمکي دجذب قوه یې کشف کړه.

په 27 کلنۍ کې دخپل استعداد په اساس یوه پوهنتون کې استاد سو.

په بله برخه کې به یې دژوند پرلاسته راوړنو، کشفیاتو او آثارو وږغیږو.

آیا مالومات مو خوښ شول ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په امریکا کې د Hawaii په نوم یوه سیمه.
آیا پوهېږی هغوی ولې دومره پرمختګ کړی؟
افغانستان پنځه زره کاله تاریخ لري، مګر امریکا یواځې 500 کلن تاریخ لري.
ځکه چې دوی کار کړی دی، عصري علوم یې لوستي دي، په طبیعت کې دخدای (ج) لخوا څخه دموجودو نعمتونو او حکمتونو څخه یې ګټه اخیستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# پوهیږئ!

د کرکیټ دغه بیل یا سټمپ د یوه ایفون په اندازه قیمت لري، ددې مکمل سیټ په 40000 ډالره دی.

سرچینه: ګوګل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاید داسې سوچ وکړې چې دا موجود کوم پیرئ  او یا عجیب الخلقه موجود دی،

خو جالبه دا ده چې وپوهیږې موږ دMRI  لاندي په دی بڼه لیدل کیږو او دا کس یو انسان دی:)

(c) ketabton.com: The Digital Library




په عکس کي موټر ته ورته جالب جوړ سوی بایسکل وینی


(c) ketabton.com: The Digital Library



# حیرانونکې

دا گوتمی د 1200 کاله زړه ده، او د الله پاک نوم باندي لیکلی دي.
دا گوتمۍ په سویدن کي د یوې مېرمني په قبر کي پیدا سوېده.
او د عباسیانو او سویدن تر مینځ تجارتي روابط شیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ډېره جالبه!!

دولفین کبان (ماهیان) چې ډېر زیات ځیرک او د اوږدې حافظې لرونکی حیوانات دی، د ګارډین ورځپاڼې د ۲۰۰۳ م کال یوه لیکنه مې لوستله چې د امریکا په میسیسیپي ایالت کې د Marine Mammal Studies په نامه یوې موسسې ډولفینونه داسې روزلي و، چې کله به یې هغه تالاب ته چې دا ډولفینان پکې ساتل کېدل چا کاغذ او یا کومې خځلې ورواچولې نو ډولفین کبانو به هغه له اوبو څخه را ټولې کړې او له ځان سره یې وساتلې او چې کله به ددې ډولفینانو روزنکی راغی، هغه ته یې د خوړو په مقابل کې ورکولې، او په دې سره به یې دخپل حوض د اوبو پاکوالی ساته، خو جالبه دا وه چې د Kelly په نامه ډولفین به هغه کاغذونه چې حوض ته به خلکو وراچول په خپل حوض کې له یوې ډبرې لاندې پټول او هرکله به یې چې روزونکی راتللو نو هغه کاغذ به یې دوه ټوټې کاوه چې دوه ځلې پرې خواړه واخلي، د ډولفین ځیرکي په دې ځای ختمه نه شوه ، یوه ورځ یې د حوض د اوبو پر سر یوه مرغۍ راونیوه او له ځان سره یې پټه کړه کله چې روزونکی راغی دا چې مرغۍ غټه وه ، روزنکي یې ډېر خواړه په بدل کې ورکړل ،

(c) ketabton.com: The Digital Library




دنشه يي توکو پلورونکي په خپل منځ کې يو قانون لري چې ،هر هغه توکی چې ته يې خرڅوې او قاچاق کوې د هغه په نشه به ځان نه روږدی کوې.
د فيسبوک مشر مارک زاګربرګ يو ۱۲ کسيز ټيم ددې لپاره ګومارلي ،چې دده فيسبوک پاڼه اپډيټ کړي او دده و د فيسبوک په اړه معلومات ور پورته کړي.
تاسې خو به په فيسبوک نه يئ روږدي شوي؟ په نړۍ په سلګونو ميليونه کسان په يو نه يو ډول په فيسبوک روږدي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




هغه اولین سهار چی په سویډن هیواد کې د موټر چلولو لاس له
چپ څخه په ښی لاس بدل شوه  کال ←"۱۹۶۷"

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جالبه ده چې پوه شې!

یوازې حیوان چې بل هیس ځناور یې نشي
خوړلی هغه بالغ کرګدن یا سرکوزی ده.
او یوازینی دوښمن یې انسان معرفی شوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## معالومات:

چین یو داسې ماسک اختراع کړی دي چې په واسطه يې انسان کولې شي چې خپل د تنفسي گرمايش څخه خپل موبايل چارج کړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ته وايي زوی !
نوم يي Jami دی
څوارلس کاله عمر لري ، د سويس يو بانک يي
حک کړئ دی او 174ميليونه ډالر يي د پلار
حساب ته ليږلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوبۍ کې د لوړ پوړو ودانیو لپاره د کړکۍ پاکونکی شاوخوا 5 زره ډالر په میاشت کی ترلاسه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library





گوستاو د نړۍ تر ټولو لویه او طاقتوره وسله ده!
دا وسله د جرمني هیواد لخوا جوړه سوي ده، چي په دوهم جنګ جهاني کي کارول سوي وه، ددي وزن 1350 ټنه دی، اوږدوالی 47.3 متره، ددي وسلي ګولۍ 7 ټنه وزن لري، دا وسله کولای سي چي په 47 کیلومترۍ کي خپل هدف وولي، تقریباً 2000 کسانو ته اړتیا ده چي دا وسله اداره کړي.
عکس د 1942 کال دی هټلر وسلي ته ګوري او ستاینه یي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددي نوم (پـالينـيم) دى دنـړۍ ترټـولو خطرناک زهـردي چي يـو گرام کولاى سي 10 ميليـونه خلک مـړه کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




په گوتو باندي تکان کول


داسلامی پوهي پراساس په گوتو باندی تکان کول

مو دگوتو بندونه غټوی نو دگوتو دبندونو

دغټې دو په صورت کی مولاسونه ریږد پـیداکوی اوهم دگوتو


دغټی دو سبب گرځی...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسان بدن ۶.۵ لیتره وینه لري چې په هرو دریو دقیقو کې په ټول بدن کې تقریباً درې ځله ګردش کوي او هره ورځ زموږ د بدن دننه وینه ۱۹۰۰۰ کیلومتره مزل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرانسې په نړۍ کې لومړی ځل د قیر (تارکولو) پرځای په شمسیو باندې د سړکونو پوښل پیل کړل!

فرانسه غواړي د خپل هېواد سړکونه،د تارکولو (قیر) پرځای په شمسیو وپوښي چې هم به سړکونه پرې هوار کړي او هم به وکولای شي د سړک غاړو د روښانولو او نورو چارو لپاره برېښنا لاس ته ترې راوړي. له هغه خبر څخه وروسته دادی اوس د فرانسې په نورماندې Normandy کې د Tourouvre-au-Perche په نامه کوچنی ښار کې یوکیلومتر سړک په شمسیو وپوښل شو .

د فرانسې د چاپېریال ساتنې وزیرې سېګولېني رایل Ségolène Royal تېره چارشنبه یو (یوکیلومتره ) سړک چې په شمسیو پوښل شوی و پرانیست ؛ دا سړک د ۵ کلونو په موده کې بشپړ او دوه زره او ۷۸۷ متره مربع شمسۍ پرې نصب شوې چې شاوخوا ۵،۲ میلیونه ډالر لګښت پرې راغی.

دا شمسۍ هره ورځ د ۲۰۰۰ موټرو درووند فشار زغملی شي. په شمسیو د سړکونو پوښل په فرانسه کې اوس یو پیل او په ازمایښتي بڼه دي، که ښه او مقاوم ثابت شي دا لړۍ به د برېښنا ،پاک چاپېریال او کم مصرف په خاطر پسې اوږده کړي او په راتلونکو ۵ کلونو کې به ۱۰۰۰ کیلومتره سړکونه په شمسیو وپوښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جالبېه ده!!

باز یا شاهین کولی شي سل کاله ژوند وکړي خو تر اوسه موږ دا فکر هم نه دی کړي چې باز دومره عمر لري!

دا په داسې حال کې ده چې بازان مړ کېږي نه بلکې دوی یو ډول مرض لري کله چې په هغه مرض اموخته شي نو باز په خپله موښوکه ځان ځیرې کوي او ځان وژنه کوي.


پر بازانو باندې څېړونکي ډله زیاتوي:هغه بازان چې له دغه مرض څخه خوندي پاتې شوي تر سلو کالونو پورې ژوندي پاتې شوي دي او کوم بازان چې دِ دغه مرض ښکار شوي خپله ځان وژنه کوي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نړۍ تر ټولو لویه هدیره چې د عراق په نجف ولایت کې موقعیت لري، ددې هدیرې د قبرو شمیر تقریباً 6 میلیونو ته رسیږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسان د رګونو جوړښت :-

د ساینسپوهانو د څېړنو له مخې د انسان د بدن د ټولو پټو او ښکاره رګونو اوږدوالی نږدې 《 97000 》 کیلو مترو ته ر سیږي.د انسان په بدن کي بې شمېره لوی،ښکاره،کوچني،پټ او وېښته ډوله رګونه دفعالیت لپاره پر کار اچول شوي دي.دوی د ویني له لاري د انسان بدن چې له سل ټریلیونه حجرو څخه جوړ دی،هرې حجرې ته اکسیجن،خواړه او نور ضرورې مواد رسوي او کاربن ډای اکسایډ ور څخه خارجوي.

《 فَبِاَیِّ ءَا لَاۤءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبَانِ 》

نو تاسو به د خپل رب کوم کوم نعمتونه درواغ وګڼئ !


(c) ketabton.com: The Digital Library



ایا پوهیږی؟

مچی له 40 ورځو څخه کم ژوند لری ، لږترلږه پر 1000 ګلانو کښینی او د یوی د چایو د کاچوغی په اندازه شات تولیدوي.
د چایو د کاچوغی په اندازه زموږ لپاره دا یواځی شات دی مګر د مچیو لپاره دا ژوند دی !! مننه ، مچیو!

(c) ketabton.com: The Digital Library




سوريايي خطاط "احمد نجيب" د دريو کلونو په اوږدو کې بشپړ قرآنکريم دخپلو هنري گوتو په توسط په ښکلي خط باندې وليکئ.

ماشاءالله

(c) ketabton.com: The Digital Library




تام برون tom brown:

هغه متقاعد انجنیر دئ چې وکولای شو چې د تیرو ۲۵ کلونو په ترڅ کې د منهو ۱۲۰۰ مختلف ډولونه د منقرض کیدو( د نسل ختمیدل) څخه وژغوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسل(شات) هیڅکله نه خرابیږی.

تاسو دری زره کلن زاړه اسل(شات) هم خوړلای سی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسپانیا او بارسلونا ترمنځ په کوم ځای چې
شپه ورځ سره جلا کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کښتۍ ځغلولو نړیوال اتل برتانوی الیکس گریگوري چې دوه ځلې د اولمپیکي لوبو اتل شوی ، په‌کښتۍ کې له ۱۰۰۰ کیلومترو اوبه په پارو وهلو سره له ریکارډ جوړولو وروسته دخپلو لاسونو عکسونه خپاره کړي.

یانې چې لاسونه تناکې نه کړې، زحمتونه ونه کړې، کوششونه ونه کړې په‌مفتو کې بریالیتوب ته نشئ رسېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




پوهېږئ

شمالي کوریا او کیوبا په نړۍ کې یوازنۍ ځایونه دي چې تاسو پکې پیپسي نشئ اخستلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د نړۍ اتیا سلنه کمپیوټرونه او سیستمونه د کمزوري پټ نوم (پسورډ) له امله هک او غلا کېږي. د مسلکي انجینرانو توصیه دا ده، چې خپلو سیستمونو او کمپیوټرونو ته قوي او اوږده - سخت پسورډونه ورکړئ.

لکه:

AFGHAnistan@#$%&*/123465

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان اټکنسن Rowan Atkinson یا میسټر بین چې کله وغوښتل چې په ځینو تلویزیني ننندارو کښې کار وکړي نو هغوی رد کړی دده د ژبې د بندیدو له امله نو بیا ده خپله ننداره جوړه کړه د میسټر بین Mr bean په نامه په کوم کې چې ده هیڅ خبره هم ونکړه او په خپل جالب اداکاری سره یې ټوله نړی وخندول.

تاسو به یې هم حتمن ویډوی کتلی وی کوچنیولی کی یا هم اوس ما خو یې یو سه برخی کتلی دی.

نو اصل خبره داده چې همیشه کوشش وکړی تاسی ډیر څه کولای سی که تاسو وغواړی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهیږئ ؟

دا د سمساري څخه کښل سوي پوست دي چې تر دي ورسته به د ښځو لپاره دستکولونه ځوني جوړیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حـــیرانونکې
د یمن هیواد د مارب په نوم صحرایي سیمه
ویل کیږي؛
چې له دغه سیمې څخه حضرت سلیمان علیه السلام تېر شوی
او په دغه سیمه کې بالقیس په خپلو خلکو واک او بادشاهي کوله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاپانئ لویه لاره د هانشین له زلزلې وروسته..!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنگاپور ده کوم چی په 112 ملیارده ډالره دارنگه شوی ده حال ده چی زموږهیواد ته تر2016 پوری 131 ملیارده ډالری راغلی وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اپیل کمپنۍ په نویو ځیرکو ساعتونه Apple Watch Series 4 کې داسې سېنسرونو کارول شوي دي چې د یوه شخص یو دمي او ناڅاپي ناسته او پرځمکه راغورځېدنه معلومولی شي او که تر یوې دقیقې څښتن دګړۍ خبرداري ته ځواب ورنکړې، ګړۍ په اتومات ډول پولیسو ته دڅښتن موقعیت ورلېږي چې سړی چېرته غورځېدلی او په ځان هم خبر ندی.

تېره ورځ د ناروې یوه ٦٧ کلن سپین ږیري چې دا ساعت یې په لاس و په تشناب کې یې د شپې په ۴ بجې پښه ښوېدلې او غورځېدلی و، ساعت یې په اتومات ډول پولیسو ته دده موقعیت ورلېږلی و، پولیسو چې دده اپارتمان پیدا کړی ،ګوري چې سپین ږیری دانګې وانګې په تشناب کې پروت دی، ژر یې تر روغتونه رسولی دی.

لور یې وایي پلار مې خوشبخته و چې دا ساعت یې په لاس و کنه په حمام کې‌به‌پروت و او څوک به ورخبر هم نه و.

دی لا دوو مېږو ته ناست دی او شپني کا!

نوراحمد عایل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کیله چی دننه زرغونه او یا هم شنه وی او پوست یی زیړ وی مخوری ځکه چی دا کیله په مصنوعی ډول پخه سوی ده په کیمیاوی موادو سره.


ځکه طبیعی کیلو کی همیشه لومړی دننه تنه پخیږی او زیړ رنگ اخلی او بیا وروسته دباندی پوست زیړ رنگ اخلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آس جنسیت د غاښونو په شمیرړل سره  هم معلوم کول شي ؛ د نارینه غاښونو شمیر له 40 څخه تر 42 او له ښځینه 36 څخه 40 پورې غاښونه لري .


(c) ketabton.com: The Digital Library




ایا تاسو پوهیږئ؟

د انگلیسي عددونو په نوم پیژندل شوي ساینسپوه، ریاضي پوه، نجوم، فیلسوف او تاریخ لیکونکي
محمد ابن موسی خوارزمي و.
_ د هر عدد مساوات د هغې د زاویو سره پیژندل کیږي -

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په ځمکه کې د تصویر مطابق تونل جوړ کړې، نو هیڅکله به د ځمکې بلې خوا ته ونه رسېږې او دا سفر به دې تل دوام ولري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Japan breaks world record for fastest internet speed

It's about 7.6 million times faster than what you probably have at home.

By **Kristin Houser**
July 22, 2021





جاپان د نړۍ ترټولو ګړندۍ انټرنیټ ریکارډ مات کړ !!

په یوه ثانیه کې 319 ټیرابایټ!  پدې سرعت کې ، په یوه ثانیه کې 80،000 فلمونه ډاونلوډ کیدی شي

دا سرعت په متحده ایالاتو کې د کورونه انټرنیټ اوسط سرعت څخه شاوخوا 7.6 ملیون ځله ګړندی دی ، په لنډه توګه ، د مور شیدې او د پلار ډوډۍ د دې جاپانیانو لپاره حلال دي ځکه دوي کوښښ کړي او تل یې ځانونه نړۍ ته سم ښودل ده

(c) ketabton.com: The Digital Library




آیا پوهېږئ؟

د انسان د غاښ درد ځکه تر نورو دردونو ډېر سخت وي، چې د غاښونو رګونه او ریښې له دماغو ډېري او نږدې اړیکي لري، نو ځکه یې درد ډېر سخت او خطرناک وي.

#نوټ: انځور ښه په دقت وګورئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلوټوټ په ټوله نړۍ کې کار پرېږدي!

بلوټوټ چې پښتو کې ورته ( شین غاښ ) وایي په اریکسون شرکت کې د ( جاب هارتسن ) لخوا په ۱۹۹۴ کال کې رامینځته شو او د ډینمارک د دوهم پاچا ( Harald Bluetooth )نوم یې پرې کېښود. هارالډ شنه ځنګلي توتان ډېر خوښېدل او تل به یې غاښونه شنه و او په نړۍ کې هم د شین غاښي پاچا په نوم مشهور و، هارالډ د ( ناروې ) او ډنمارک تر منځ د سولې علان وکړ او د دواړو هېوادو د خلکو تر مینځ یې اړیکې رامینځته کړې؛ نو د اریکسون شرکت خپل فناور د ( شین غاښ ) په ویاړ ونماو.

په لومړیو کې د بلوټوټ شکل هم د غاښ په شان و، د بلوټوټ دغه شکل له دوو ټکو جوړ شوی H مانا هارالډ او B مانا بلوټوټ

چې په پخواني جرمني خط لیکل شوی.


اوس د اریکسون شرکت مسولین وایي؛ چې تر ۲۰۲٦ کال به په نوي وارژن کې د سرعت زیاتوالی راولو یا به یې له دې وروسته نور بند کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بَم د سترګو لیدل د انسانانو په پرتله 82 ځله زیات دی!
که چیري د انسان سترګو د بَم د سترګو په رنګه لید درلودلای، نو انسان به کولای سوای چي د 1 کیلومتر څخه لیري په توره تخته باندې لیکنه ولولي.
دی خورا رَډ رَډ ګوري، یعني یخي سترګي ئې نیولي وي، سترګي په ډېر زحمت رپوي او انسانان هم د ده د سترګو په خاطر ځیني بېریږي.
په مرغانو کي نو د ده سترګي تر ټولو ښایسته دي.
دا مرغه یا ډېر سپین سترګی دئ، چي سترګي نه رپوي، معنا په کیسه کي مو لا نه یم او یا ډېر بېعقل دئ، ځکه په دې نه پوهیږي چي د بیري په وخت کي باید سترګي و رپول سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهیږئ ؟

دا د ترینیټي پوهنتون کتابتون دی چي د ایرلینډ هیواد په ډوبلین ښار کي موقیعت لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حیرانوکی معلومات

«« آیادمیږیانو دشمیر څخه خبریاست؟؟؟
ویل کیږي چه دمیږیانو شمیر, په مځکه کي دومره زیات دی چه دټولو حیواناتو اوحشراتو، څلورمه برخه تشکیلوي..
کارپوهان ،اټکل کوي چه دمیږیانو شمیر،تریو (میلیون میلیارده )اضافه دی، نو په دې توګه که چیري موږ حساب وکړو دهر انسان پرسرتریومیلیون زیات میږیان رسیږي..
نوکه فرض کړو چه میږیان زموږ په وړاندي راوپاڅیدل.
نودیومیلیون میږیانو سره دیوانسان مقابله ناشونې ده،
معنی داچه په موږ کي دمیږیانو ددفاع توان هم نسته،
الله تعالی دډیرستر قدر ت څښتن دی، سبحان الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

جالبه:

که چیري د دالرو ۲۰ والا نوټ په داسې شکل قات کړي چې په تصویر کې ښکاري نو تاسو ته به د سپتمبر د ۱۱ تاریخ پیښه درښکاره کوي.

نوټ: دا پېښه په 2001م کال د سپټمبر پر ۱۱ یولسمه دالقایده ډلي د رهبر عثماء لخوا دهغه د ۸ نفرو په واسطه په نیویارک ښار کي ددو ملکي الوتکو په ذریه پر دغو دووتامیرانو باندي حمله وکړه یعني پکښې ټکر یې کړې او دغه دوه تامیران ډگ له خلکو په مځکه ننوتل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نړۍ کې یوه له عجیبه کورنیو څخه. دا په برازیل کې یوه کورنۍ ده ، چې ټول اووه غړي یې په دواړو لاسونو کې شپږ ګوتې لري.


د یوې کورنۍ کې په ټولو غړو کې ګډوډي خورا بدبختي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library




د حضرت موسی علیه سلام د عصا یا لکړه تصویر چې د ترکیې هیواد په یو موزیم کې ساتل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان څهرې ته ورته غر!!

داغر په یوه عربي هیواد کې دی چې کاملآ دانسان په شکل خالق پیداکړی.


(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهیږئ دا کس د ۷۰ انسانانو قاتل وه،

ډیگو الویز پرتگالي کس یو سریال قاتل وؤ چي د 1836 او 1840 تر منځ یې ۷۰ کسان ووژل او وروسته په 1841 کال کي اعدام شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لیبیا کې لرغونی جومات:

دا جومات د 1،300 کلونو څخه ډیر زوړ دی او په شمالي افریقا کې یو له ترټولو پخوانیو جوماتونو څخه دی

دا په 46 هجري قمري کال کې د صحابه عبد الله بن ابی السارح لخوا جوړ شوی و.

جومات د کاروان سوداګرۍ د هوساینې پرمهال ځانګړې اهمیت ترلاسه کړی ، چیرې چې مسافر د سرپناه ، خواړه او څښاک ، او د جومات او د هغې د انګړ د دهلیزونو ترمنځ امن او راحت ومومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه سترګی دی چی د ایټم بم پټاو یی لیدلی دی چی
په 8 اګست 1945 کال کشی د جاپان په هیروشیما ښار
کی پټاو سوی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library




د نړۍ تر ټولو اوږد موټر!


دا موټر د ليموزين په نوم يادېږي، 30.5 متره اوږدوالی لري، کولای سی له دوارو خواوو څخه يي وچلوئ، 24 ټايرونه لري، يو د اوبازي حوض هم لري، او يو د هليکوپټر د کښېنستو ميدان هم لري ، دا موټر په 1976 کال کي د (Jay Ohrberg) کمپنۍ لخوا جوړ سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنړۍ تر ټولو کوچنۍ قران کریم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نړۍ تر ټولو تېزترینه اسلحه Metal storm ده،دغه اسلحه په هره دقیقه کې یو میلیون مرمۍ فایر کوي.
دغه درنه وسله په 2007 کال کې د یوې استرالیائي کارخانې لخوا جوړه شوه،دغه اسلحه په هلي کوپټرو او درنو موټرو نصب کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د سره زر په قیمت وینا!

بی بی سی: د رهبر او سیاستمدار ترمنځ توپیر څه دئ؟

ماندیلا: سیاستمدار هغه وي چې د راتلونکی انتخابات په اړه فکر کوي او اندیښمن وي او رهبر هغه څوک دئ چې د راتلونکی نسل په اړه فکر کوي او ورته اندیښمن وي...!!!

ماندیلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیاپوهیدلاست؟

دادهغه(Rifle) توپکانو عکس دي کم چي ددوهم نړیوال جنګ څخه ووسته جرمني ته وپاته سول.


(c) ketabton.com: The Digital Library



آیاپوهیدلاست؟

چي( Lake Biakal)دنړي تر ټولو زوړ یا پخوانی جهیل دي, چي دروسیي په سایبیریا کي موقعیت لري,دغه جهیل دنړي 20% تازه اوبو لرونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله اخره دا هم معلومه سوه چې هګي تر مخه راغلي که چرګه
ساینس پوهانو دا ثابته کړه چې چرګه ترمخه راغلې ځکه هغه پروټین چې
دهګي پوښ ( هغه کلکه سطحه چې بیضوي شکل لري ) ځیني جوړیږي
یوازي یې چرګه تولیدلاوی سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا متحده ایالات

د امریکا په فلوریدا ایالت کې بې کورو خلکو ته خواړه ورکول منع دي.
په دې برخه کې قوانین تردې جدي دي، چې ان یو ځل یې د دې کار له کبله یو ۹۰ کلن کشیش بندي شو.
په دې ایالت کې یو بل جالب قانون دا دی، چې که په عمومي سیموکې مو لاړې توکړې، سر مو زندان ته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سینګاپور

که سینګاپور ته لاړئ، هلته به دې سره پام کوئ، چې د بل چا له وایفای سره پخپل سر د نښلیدو هڅه نه کوئ. په دې هېواد کې دا کار جرم او تاسې هیکر ګڼل کیږئ.
د هیکرانو او داسې عمل لپاره د سینګاپور په قوانینو کې ۳ کاله بند په نظرکې نیول شوی.
که غواړئ د سینګاپور سفر مو سر ترزندانه ونه رسوي، هڅه مه کوئ چې د چا له وایفای انټرنیټ سره پخپل سر وصل شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اګوشیما عجیب ټاپو ، چیرې چې یوازې 200
خلک ژوند کوي ، له څارویو پرته دی،
دوی یوازې د ځان تغذیه کولو لپاره نباتات کاروي

(c) ketabton.com: The Digital Library




د کاناډېر اور وژونکی!

دا په نړۍ کې د اور وژنې تر ټولو لویه الوتکه ده!

دغه الوتکه چې په کاناډا کې جوړه شوي ده چې هره الوتکه تقریباً 36 ملیونه ډالره قیمت لري.

مراکش یواځینی عربي او افریقایې هیواد دی چې دا ډول شپږ الوتکې لري. او په نړۍ کې یواځې 12 هیوادونه دا ډول الوتکې لري.

د اوبو د ډکیدو لپاره دومره چټک ځواک لري چې یواځې په 12 ثانیو کې 6 زره لیټره اوبه ذخیره کولی شي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# استرالیا

په استرالیا کې به د سفر او خبرو پروخت قسم خوړلو ته زیات پام کوئ.

هلته اصول دا دي، چې که هسې د ټوکې په ډول هم درنه قسم وخوړل شو، تر ٦ میاشتو به مو زندان ځای وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




آیاپوهیږئ

دحلزون(Snail)غاښونه دنړۍ ترټولو قوي ترینه بیولوژیکي ماده ده. چي ډیر زیات مقاومت لري

اوکولای سي چي کاربن او الماسوته ور داخل کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دعا محتاج مو..

(وسیم افغان)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**